# د محمد الیاس په شاعرۍ کښې د طنز توکي : یوه تجزیاتي څېړنه

# An Analytical Study of the Elements of Satire in the Poetry of Muhammad Ilyas

Issn 2304-1463

Dr Shukria Qadir [1]
Shukriaqadir@awkum.edu.pk
Hujjat Ullah [2]
cecosian22@gmail.com

## Abstract

Muhammad Ilyas stands out as a significant contributor to modern Pashto literature, with a prolific body of work in both poetry and prose. His poetic creations encompass a wide array of themes, with satire being one of the most prominent streams in his work. This article explores the satirical elements in Muhammad Ilyas's poetry, analyzing how he uses wit, humor, and critical insight to address societal, cultural, and political issues. By shedding light on his innovative approach to satire, the study provides a nuanced understanding of his literary contributions and their relevance to contemporary Pashto literature. This research will prove invaluable for students and scholars seeking to explore the intersections of satire and Pashto poetry.

**Keywords:** Muhammad Ilyas, Figure, Modern, Pashto literature, Contributions, Poetry ,

Prose,, Diverse , Subjects, Themes, satirical , elements.

طنز و مزاح په عمومي توګه په اردو او پښتو کښې د یو مرکب توری په طور استعمالیږي طنز ته په انګرېزۍ کښې "satire" وایي چې معنی ئې ده خرابي،بېوقوفي،او مزاح ته په انګرېزۍ کښې "humour" وایي چې معنی ېې ده خندا ،مسخره،یا خوند پېدا کول هم دغه رنګ طنز و مزاح کلمې په ټولنه کښې داسې رواج موندلے دے چې د یو بله جدا کول ئې که ناشوني نۀ دي نو ګران دي د طنز و مزاح په حقله مشتاق مجروح یوسفزے وایي

"طنز ته په انګرېزۍ کښې "satire" او مزاح ته "humour"
وئیلے شي تر اوسه چې عالمانو د طنز و مزاح په حقله څۀ
وئیلي دي دهغې خلاصه دا ده چې طنز و مزاح د یو تصویر
دوه اړخونه دي .طنز نګار د معاشرې لوړې ژورې او خامۍ د

[1] Assistant Professor Deportment Of Pashto Abdulwali Khan University Mardan.
[2] Mphil Scholar Department of Pashto University Of Malakand.

خپل طنز نخښه جوړوي يعنې د هغې نه د نفرت اظهار کوي چې لوستونکي ترې خوند هم اخلي او د هغې اصلاح هم کيږي[1]

طنز نګار د يوې ټولنې په نفرتونو ،تعصب،کرکې، بدۍ چې کم ځاے وينې په هغې ليک کوي د ادب خاصه هم دا ده چې د يوې ټولنې نه د بدو ،کرکو کرکجنو د ويستو کوشش اوکړے شي.

" طنز نګار د معاشرې بدۍ وينې خرابيتونه ته ئې پام وي او غواړي چې دغه خرابۍ او خامۍ نورو ته هم په ګته کړي د دغې غرض دپاره هغه په دغه خرابو او بدو ليک کوي د هغې نقصانات په داسې طريقه خلقو ته وړاندې کوي چې د چا خاطر پرې نۀ درنيږيخو هغه د طنز په ترخو ګولو باندې د خپل ذهن په ليبارټرۍ کښې د مزاح شوګر کوټينګ کوي چې لوستونکي ئې په مينه مينه تېروي او د خلې خوند ئې نۀ خرابيږي.او چې څنګه يو مزاح نګار د مزاح دپارهقسما قسم حربې استعمالوي دغه شان طنز نګار هم کوي او د هغه قدر دے چې په طنز نګار او مزاح نګار کښې مشترک دے يعنې مزاح بغېر د طنز نه او طنز بغېر د مزاح نه متوقع صورتحال نۀ پېدا کوي او په دې وجه دواړه لازم ملزوم دي"[2]

د پښتو ادب د لرغونې دورې نه په شاعرۍ کښې د طنز اثار ښۀ جوت راروان دي او تر ننه ئې هر ساهو ليکوال خپله ذمه ګڼي په خصوص په شلمه او يويشتمه صدۍ پېړۍ کښې طنز کولو ته ډېره پاملرنه شوې ده په طنز نګارو شاعرانو کښې يوه نامه د ملاکنډ د ادب خېزې او مردم خېزې خاورې د يو ځوان شاعر محمد الياس هم ده.

"محمد الياس د مارچ د مياشتې په دويمه نېټه نولس سوه اتيا کښې د طوطه کان کلي د استوګن فريدالله خان هيډ ماسټر( چې د سينئر سټاف صدر هم پاتې شوےدے د يوسفزو د سلطان خېل د ذيلي شاخ اسماعيل خېل سره تعلق

لري) کره سترګې وغړولې نیکه ئې د خپل وخت یو نومړے
مشر تېر شوے دے چې دحاجي اسماعیل خان په نوم
یادیږي"[3]

محمد الیاس په ۲۰۰۰ کښې د پاکستان مرین اکېډمۍ نه د جهاز رانۍ تعلیم حاصل کړو او څو کاله په پاکستان شیپینګ کارپوریشن کښې د کیپټن ذمه داري تر سره کړه او نن سبا په سعودي عرب دمام کښې په دغه څوکۍ خپله ذمه واري تر سره کوي محمد الیاس درې شعري ټولګې "شور مې د قلم په ژبه راوله" "د رڼا رنګونه" "فکر مې سندره شو" او ورسره د هایئکو یوه مجموعه "دیوالونو ته لګیا یم" ئې هم د چاپ په کالو سینګار دے.محمد الیاس د نورو موضوعاتو تر څنګ یو کوټلے او هنري طنز
نګار هم دے هغه د طنز دغه تراخه خواږه د غزل په شعرونو او په خصوصی توګه د هایئکو په چوکاټ کښې شیندلي دي

قامي طنز:

پښتون قام په خپل منځ کښې یو بل ته ډېر تورزن خو د کوم څۀ دپاره چې مونږ له اتفاق او اتحاد پکار وي هغه په پښتون قام کښې بیخي نشته د پښتون قام په دغه مرض الیاس داسې رقمطراز دے

پـــــــرون پـــــــه غبرګـــــــو جنـــــــازو ولاړ ؤم
خـــوا کښـــې د کـــس نـــه مـــې تپـــوس اوکړلـــو.
وئیـــــل ئـــــې د رونـــــو پـــــه ډېـــــران جنـــــګ ؤ.[4]

د پښتون قام په نفاق په یوه بله هایئکو کښې وایي.

وچ پـــــه نـــــا حقـــــه یـــــو بـــــل وزوروي
د پښـــــتون دغـــــه ســـــوچ کـــــه دغســـــې ؤ
د مخکښـــــې تلـــــو ګمـــــان دې نـــــۀ کـــــوي بیـــــا[5]

یا لکه وائي

پــــه ژونـــد ناکامــــه دي ملګــــرو د نصــــابه تختـــي
پښـــــتون بــــه څــــۀ ترقــــي اوکـــــړي د کتابـــــه تختـــي
چـــــې لــــړ پښـــــتون قـــــام تــــرې عبـــرت واخلـــي
د بـــــې ننګــــې ســــوچ مــــې سنګســـــار کــــړئ خلقـــه[6]

زۀ چـــــــې پښـــــــتنو تـــــــه داســـــــې وايمـــــــه
پـــــــاڅئ د خپـــــــل حـــــــق دپـــــــاره ودرېـــــــږئ
دا جـــــــوړ دېوالونـــــــو تـــــــه لګيـــــــا يمـــــــه[7]

**مُلا:**

پوهانو مُلا په دوه ډلو کښې تقسيم کړے دے . يوې ته علماء سو او بلې ته علماء حق وئيلې شي . پښتنه ټولنه کښې علماء حق ته په ډېره درنه سترګه کتلې شي . دغه رنګ علماء سؤ نه شي خوښولې په دې دا هاغه مليان وي کوم چې د مذهب په نوم او په مذهبي جامه کښې وي خو د مذهب په صحيح توګه نمايندګي نه کوي .بلکې د خپلو مفادو دپاره د مذهب نامه پکاروي . محمد الياس چې چرته هم په معاشره کښې غلطي ليدلې نو هغه که ملا دے که عامي که خان دے که غريب نو ښۀ په ډاډه زړۀ ئې پرې طنز کړے دے

خدايــــه پــــه ديـــن او دنيـــا دواړه دي مليـــان قـــابض دي
د ژونـــد ټپـــو لــــه يـــا قربـــان تپـــوس د چـــا نـــه اوکــــړم[8]

د ريــــا او تکبـــــر پــــــه ســــــوچ کښـــــې غــــرق ئـــــې
دغـــــه خپـــــر خـــــو دا بـــــه نــــۀ کــــوې ګنـــــاه ده
مـــــلا جانــــه ســــتا بـــدعت ســــړے خفــــه کـــــړي[9]

يو بل ځاے کښې وايي.

خپلې فائدې له ئې روا اوګڼي
په یو نیم ځای کښې ملاجان هم ښۀ دے[10]
دا چې پرې حق په جار وئیلے نۀ شم
خدایه د دغو نه ممبر و اخله[11]

ملا چرته هم په ډانګ پیئلې خبره په ممبر نۀ ده کړې ځکه محمد الیاس په هائیکو کښې داسې وایي

داسې سر عام به ترهه ګر نۀ
ملا که د ممبر نه داسې ویلے وے
ظلم دے ګناه ده د انسان وژل[12]

د ملا د ماده پرستۍ په حقله وایي

ډېر حکایات ئې تاؤ راتاؤ کړه ورته
ملا وې دا مړے ولې سړے ؤ
ما وي تپوس اوکړئ مالدار خو نۀ ؤ[13]

په ځان او طبقاتي نظام طنز.

زمونږ په ټولنه کښې خان او سرمایه دار همېشه د خپلې خانۍ ملکۍ په زور د غریب استحصال او سپکاوے کړے دے

غریب به ځنګه چونډ د خلې اوباسي
چغار کوي د خان پښو ته ګوره
ځۀ شوه چې غاوره وو په مال باندې
خاورو کښې پراته دي مړو ته اوګوره[14]

او یا دا چې

دکور د کټوۍ غم ناولو پرېښے دے بېګار کوي
بېوسو جوړه کړې بیا د خان په سر جګړه ده [15]

دا هائیکو هم دغې پلو اشاره ده

خان ته مې ګوته هسې نۀ نیوله
د خان دانې پکښې اول وړه شوي
ژرنده د پلار وه خو په وار ئې نۀ کړه[16]

اوس ئې هم په سترګو بدي لړمه
یو ځلې مې خان ته داسې ویلې وو
زۀ به همېشه داسې غربت کښې یم[17]

سیاسي طنز:

محمد الیاس په وطن کښې د موجوده سیاسي حالاتو نه نا خبره نۀ دے او د سیاسي لیډرانو په ضمیر فروشۍ ژور نظر لري ځکه خو په خپله شاعرۍ کښې ځاے په ځاے داسې وایي

ټول لیډران خپلې کرسۍ له ژاړي
ورانه په مونږ خلقو دنیا ښۀ ده
چې دا بے وسه سیاست اوګوره
زړۀ ته مې راشي مارشل لا ښۀ ده[18]

په زوړ او نوي بادشاه بحث کېدو
پکښې زما نه هم پښتنه اوشوه
ما وې دا دواړه د یو خره غوږونه[19]

دغــــــه کار د شــــــمله ورو ســــــره ښــــــۀ ؤ
وس کــــم ظرفــــو لــــه پــــه لاس بانــــدې ورغلــــے
ددروغــــو سیاســــت ســــړے خفــــه کــــړي[20]

زمــــا پــــه مــــرګ بانــــدې ډالــــرې اخلــــي
ټوپــــک پــــه لاس ښــــۀ پــــه رښــــا ورځــــې
زمــــا د مــــرګ پســــې ســــرکار تــــاویږي[21]
ملــــک ســــړے مــــزې کــــوي نــــواب مــــزې کــــوي
زمــــونږ پــــه وســــائلو د پنجــــاب ســــړے مــــزې کــــوي
دا ځکــــه خــــو مــــونږ خپــــل بچــــي عربــــو تــــه لیږلــــي دي
زمــــونږ پــــه بــــے وســــۍ دغــــه جنــــاب ســــړے مــــزې کــــوي[22]

## په قاضي او عدالت طنز:

چې کله هم د یوې ټولنې نه عدل او انصاف لاړ شي نو د هغې ټولنې بقا په خطره کښې شي زمونږ عدالتي نظام د ډېرو ستونزو سره مخ دے او د قاضي او عدالت نه د خلقو اعتماد په مکمله توګه ختم شوے دے په دې وجه د جرمونو شرح ورځ په ورځ زیاتیږي الیاس په دغه حواله خپل نظر داسې ښکاره کړے دے

چــــې انصــــاف چرتــــه پــــه دوه روپــــۍ خرســــیږي
چــــې ملــــزم پکښــــې بــــري شــــي بــــے دلیلــــه
د قاضــــي دا عــــدالت ســــړے خفــــه کــــړي[23]

دلتــــه د فاصــــلې پــــه فېصــــلو کښــــې هــــم
قتــــل د انصــــاف کیــــږي پــــه جــــار بانــــدې

نـــو دلتـــه زلزلـــه بـــه پـــه مـــونږ نـــهٔ راځـــي[24]

غـــزل تـــه چـــې غـــل پـــه جـــار وئـــيلے نـــهٔ شـــي
زمـــا پـــــه ملـــک داســـــې خيـــال قاضـــــي وي
بدبختـــــه نـــهٔ وي خـــو بـــــس خـــوار شـــــي هلـــه
څـــوک چـــې د ځـــان پـــه استحصـــال راضـــي وي[25]

ددې بره شعرونو د شننې او څېړنې نه مونږ په دې نتيجه رسو چې محمد الياس پخپله ټولنه او خلقو ژور نظر لري . هغه ته چې په کوم ځاے کښې معاشرتي ناهمواري په نظر راځي نو هغه پرې د طنز غشي وروي ، دغه ناهمواري که د رويو ده، د يو فرد يا د کردار ده او که د اجتماعي معاملاتو سره تعلق ساتي ، خو هغه ئې په رامخې ته کولو هيڅ باک نه کوي . او په ډاګه ډيګلۍ د متعلقه خامو ، کمو او کمزورو نه پرده پورته کوي . په داسې انداز کښې چې سم کړې شي او په نتيجه کښې ئې په ټولنه او اولس مثبت اثرات پرېوځي . ددې مطالعه په رڼا کښې مونږ په ډاډه زړه دا خبره کولې شو ، چې محمد الياس پخپل دغه کوشش کښې تر ډېره حده برياليے شوې دے . او د هغه په شاعرۍ کښې د طنز توکي يو مهم رول لوبولې دے چې د هغه فکر وفن ته ئې جلا او ښکلا بخښلې ده ـ

# حوالې

[1] . یوسفزے،مشتاق مجروح،زرکاڼے،یونیورسټي بک ایجنسي،خیبر بازار پېښور مخ ۴۰۱

[2] .هم دغه اثر مخ۴۰۱

[3] . نثار نثار،( الیاس د منزل په لور) مشموله ,,شور مې د قلم په ژبه راوله ،، المظهر پرېس،بټخېله،کال ۲۰۰۸,مخ۱

[4] . الیاس،دېوالونو ته لګیا یم،ګران خپرندویه ټولنه،کال ۲۰۲۴،مخ۱۰۸

[5] . الیاس ،د رڼا رنګونه،اعراف پرینټر محله جنګي پېښور،کال، ۲۰۲۲,مخ۵۴

[6] . هم دغه اثر مخ۵۴

[7] . محمد الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم، ګران خپرندویه ټولنه ،کال ۲۰۲۴ ،مخ۸۵

[8] . محمد الیاس ،فکر مې سندره شو ،اعراف پرینټر،محله جنګي پېښور ،کال ۲۰۲۳ مخ ۹۹

[9] . محمد الیاس ،فکر مې سندره شو ،اعراف پرینټر،محله جنګي پېښور ،کال ۲۰۲۳ مخ ۶۳

[10]. محمد الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم، ګران خپرندویه ټولنه ،کال ۲۰۲۴ ،مخ۶۰

[11] . . هم دغه اثر مخ ۷۲

[12] . محمد الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم، ګران خپرندویه ټولنه ،کال ۲۰۲۴ ،مخ۱۷

[13]. هم دغه اثر مخ۱۸

[14] . . محمد الیاس ،فکر مې سندره شو ،اعراف پرینټر،محله جنګي پېښور ،کال ۲۰۲۳ مخ ۵۷

[15] . هم دغه اثر مخ ۳۸

[16] . . محمد الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم، ګران خپرندویه ټولنه ،کال ۲۰۲۴ ،مخ۵۳

[17] . هم دغه اثر مخ ۷۴

[18] . . محمد الیاس ،فکر مې سندره شو ،اعراف پرینټر،محله جنګي پېښور ،کال ۲۰۲۳ مخ ۹۸

[19] . محمدالیاس ،دیوالونو ته لګیا یم، ګران خپرندویه ټولنه ،کال ۲۰۲۴ ،مخ۶۴

[20] . هم دغه اثر مخ۶۱

[21] . هم دغه اثر مخ ۴۷

[22] . . محمد الیاس ،فکر مې سندره شو ،اعراف پرینټر،محله جنګي پېښور ،کال ۲۰۲۳ مخ ۹۸

[23] محمد الیاس ،دیوالونو ته لګیا یم، ګران خپرندویه ټولنه ،کال ۲۰۲۴ ،مخ۶۱

[24] هم دغه اثر مخ ۱۴۶

[25] محمد الیاس ،فکر مې سندره شو ،اعراف پرینټر،محله جنګي پېښور ،کال ۲۰۲۳ مخ ۱۹